رسول الله صلى الله عليه وسلم تر ټولو زيات سخي و او د نورو وختونو په پرتله به يې د رمضان په مياشت کې سخا ډېره زياته وه کله به چې جبرايل عليه السلام ورسره مخ کېده

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم تر ټولو زيات سخي و او د نورو وختونو په پرتله به يې د رمضان په مياشت کې سخا ډېره زياته وه کله به چې جبرايل عليه السلام ورسره مخ کېده، او د رمضان د مياشتې په هره شپه کې به ورسره مخ کېده او قرآن به يې تکراره وو، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم به د خېر په کارونو کې لکه د تېز باد په څېر په سخاوتمند کې تېز و.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم په سخاوتمند کې په انسانانو کې ستر انسان و، او د روژې په مياشت کې به يې سخا لا پسې زياتېده، نو چاته به چې څومره ورکړه لازمه وه، همغومره سخا به يې ورسره کوله، د هغه د زياتې سخاوتمند لاملونه دوه څيزونه وو : لومړی: جبرائيل عليه السلام سره د هغه ملاقات. بله خبره: د قرآن کريم تکرار، چې هغه له يادو د قرآن کريم لوستل و. نو جبرائيل عليه السلام سره به يې ټول نازل شوی قرآن ګردان کاوه، او رسول الله صلى الله عليه وسلم ډېر سخي او د ډېرې ورکړې خاوند او ښګېنه کوونکی و، او خلکو ته په خېر رسولو کې به لکه د هغه ښايسته باد په څېر تېز و چې الله تعالى يې د باران او رحمت لپاره رالېږي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6179